

# د پښتو موسيقۍ د غزل روح

## خيال محمد

مرکه: امجد شهزاد

خيال محمد د پښتو موسيقۍ هغه لوئے نوم دے چې د پښتو د غزل باچا ورته وائي. خيال محمد پښتو موسيقۍ کښې غزل ته يو نوے رنګ او آهنګ ورکړو او د يو ځان له مکتب باني وګرځېدو.

تقريباً اويا اتيا کاله وړاندې د خيال محمد مشران د خېبر د ځنو قبيلوي جنګونو له کبله پېښور ته راغلل او په رامداس بازار کښې ميشته شو او بيا هم دلته پاتې شو. د خيال محمد په قول هغه په 1948ء کښې پېښور رامداس کښې زېږېدلے دے او په قوم ملک دين خېل دے. د پاکستان حکومت ورته په 1980 کښې د حسن کارکردګۍ صدارتي اېوارډ ورکړے دے.

مونږ چې ورته کله د "پښتون" د پاره د مرکې ووئيل نو نۀ صرف ډېر په روڼ تندي ئې "آو" وکړو بلکې د صاحب ګل استاذ او ملګري اعجاز خان په وينا ئې پېښور صدر ته د هغوي ځائے ته د راتلو تکليف هم وکړو. د خبرو اترو په دغه محفل راجوړولو کښې اداره د صاحب ګل استاذ او اعجاز خان يو جهان مننه کوي.

**پښتون:** د موسيقۍ ابتداء مو کله او د چرته نه وکړه؟

**خيال محمد:** زما مشر ورور ؤ سېف الملوک هغۀ به د رېډيو نه سندرې وئيلې. ما به په ډېر شوق اورېدې. دغه وخت زۀ دومره وړوکے وم چې ما به دا فکر کولو چې په دې رېډيو کښې مې لالا څنګه بند شوے دے. موسيقۍ سره زما مينه وه خو ښکاره مې اظهار نۀ ؤ کړے. يو ځل ما څۀ سندره ځان سره زمزمه کوله چې ورور مې واورېده نو وئيل ئې ستا خو ډېر ښۀ اواز دے. بله ورځ ئې ځان سره رېډيو ته بوتلم. هغه وخت غالباً (کۀ خطا کېږم نۀ) قاضي سعيد صېب سټېشن ډائريکټر ؤ او دا خو مې ياد دي چې خدائے بخښلے رشيد علي دهقان صېب پروډيوسر ؤ. ورور ته مې ئې وئيل چې دے سندره وئيلے شي هغۀ ورته وئيل اډيشن ئې واخلئ کۀ مو خوښ شو نو موقعه ورکړئ. ما د پاره چنار د پير غلام استاذ مرحوم يوه سروکۍ غوندې ووئيله.

زما د ښکلې ځوانۍ بيا ، بيا نوے دوران دے
په غونډه زنه مې وهلے، وهلے شينکے خال دے

يوه بله مصرئيزه مې هم ووئيله:

اور په سالو واچوم، ياره سرتوره به درځمه

یا به یاري وکړم یا به پرې اور ولګومه

زۀ خو په خپله ډېر ویرېدم خو د هغوي دا سندرې خوښې شوې او زمانه متاثره هم شول.

پښتون: نو لکه ستاسو وړومبۍ ریکارډ شوې سندرې هم دغه دي؟

خیال محمد: بالکل، دوي ماته ووې چې دا سندرې بیا ووایه. ما بیا وویلې بیا راته دوي وئیل چې کۀ اوس مونږ تا ته ستا اواز واورو نو بیا؟ زۀ ډېر حېران شوم ځکه چې هغه وخت ریکارډنګ ډېر زیات کم ؤ دا نوے او ناشنا خبره وه. دوي ماته دغه سندرې واورولې.



پښتون: دا هم هغه سندرې دي چې ستاسو اواز پکښې ښځي د جینکو په شان دے؟

خیال محمد: او هم هغه دے. دغه وخت زما عمر لس یوولس کاله ؤ. اواز مې نرے ؤ. بیا دا سلسله شروع شوه. زۀ به رېډیو والا راغوښتم او سروکۍ او مصرئیزې به مې ریکارډ کولې.

پښتون: پښتو موسیقۍ کښې ستاسو پېژندګلو د غزل په حواله ده. دې طرفته کله او څنګه راغلئ؟

خیال محمد: دغه د مصرئیزو سلسله لس یوولس کاله وچلېده. هغه وخت رېډیو کښې د عبدالله جان استاذ د بمبۍ د وختو ریکارډونه پراتۀ وو. مونږ به په ریکارډې باجه اورېدل. زۀ د هغۀ د سټائل نه ډېر متاثر وم. زما رجحان ورو ورو غزل طرفته شو. د عبدالله جان استاذ "زړګے مې غم جلبل کړلو" وروستو بیا ما په ټي وي ریکارډ هم کړو. نو دغه وخت ما غزلونه ریکارډ کول شروع کړل چې پښتو موسیقۍ کښې دا یوه نوې خبره وه.

پښتون: د خلقو له طرفه رسپانس څۀ ؤ؟

خیال محمد: د خلقو ردعمل ډېر ښۀ نۀ ؤ. زمونږ غندنه وشوه، خلقو ښځي دا خوښ نۀ کړو بلکې خطونه به راتلل چې خیال محمد (او بیا راسره پکښې هدایت الله هم شامل ؤ) د رېډیو نه لرې کړئ دا دوي څنګه موسیقي وړاندې کوي خو کوم خلق چې په موسیقۍ پوهه وو یا د اعلي ذوق خاوندان وو زمونږ دپاره د هغوي داد او ستائنه پوره وه.

پښتون: تاسو په اول کښې د خپل ورور سیف الملوک نه متاثره وئ، وروستو د عبدالله جان استاذ اسلوب مو خوښ شو خو د موسیقۍ باقاعده زدکړه مو د چا نه کړې ده؟

خیال محمد: هغه وخت نواب استاذ د موسیقۍ ډېر لوئے استاذ ؤ. دے زما د ورور استاذ ؤ. د هغۀ په شاګردانو کښې ډېر لوئے لوئے او مشهور خلق شامل وو. د دیر نوابان شهاب الدین خان، خسرو خان او د حیا سېرۍ نواب محمد شاه د هغوي شاګردان وو. نواب استاذ په خپله د فریده خانم او نورو سره په شریکه د خانصاحب عاشق علي خان نه

زدکړه کړې وه. نواب استاذ په دغه دېرش ځلوېښت کاله کښې په سوونو شاګردان روزلي دي.

راحدت حسېن ، نذیر ګل او شاه ولي دا ټول د هغهٔ شاګردان وو. ما خو د هغهٔ نه زدکړه هم ډېره کړې ده خو زهٔ وایم چې د زدکړې نه زیاته هغوي ماسره مېنــه کـــړې ده او د ټولو نه لویه خبره د هغوي دعاګانې دي. یو وخت داسې راغلے ؤ چې نواب استاذ د ډېرو مسئلو سره مخ ؤ په ټولو شاګردانو وګرځېدو خو هر چا تـرې نه مخ واړولو. دغـــه وخـــت ماتـــه موقعه په لاس راغله چې د هغهٔ خدمت وکړم نو ما ئې ډېرې دعاګانې واخستې. دا نن چې زهٔ څهٔ یم دا د نواب استاذ د محنت او دعاګانو اثر دے.

پښتـون : ستاسو د فني ژوند يو اړخ د پښتو فلم مېدان هم دے چې تاسو ورسره تر ننه وابسته یئ، دغلته کله او څنګه لاړئ؟

خيـال محمد : دا د ۷۴-۱۹۷۳ دور ؤ. زهٔ چې فلمي دنيا ته تلم دغه وخت پښتو فلمونه جوړېدل شروع شوي وو. زما نه وړاندې دوه درې فلمونه لکه "بهادر خان" او "کله خزان کله بهار" وغېره جوړ شوي وو. زمونږ اولني فلمونه "درهٔ خيبر او يوسف خان شېربانو" وو چې د "درهٔ خيبر" فلم دې سندرې ماته ډېر شهرت راکړو او يو قسم له زما پېژندګلو جوړه شوه.

مونږ يو د خيبر زلمي پښتو زمونږه شان دے
مونږه پښتانهٔ يو په وطن مو ځان قربان دے

دا زما وړومبۍ سندره وه چې په فلم کښې په ما پکچرائز هم شوه.

پښتـون : دغه سندره په يو وخت کښې ډېره متنازعـــه وه. ښـــاغلي مـــراد شنواري په يوه انټرويو کښې دا سـندره پـه اجمـل خټـک صاحب پـورې منسـوب کـړې وه او بيـا پـرې يونس قياسي د مراد شنواري سره مقدمه هم کړې وه او کهٔ زهٔ خطا کېږم نهٔ نو قياسي صېب دغه مقدمه ګټلې هم ده. تاسو دا سندره وئيلې ده او د ټولو نه معتبر ګواه ئې هم تاسو يئ کهٔ دا خبره سپينه کړئ؟

خيـال محمد : زهٔ خو اوس هم يونس قياسي ته وايم چې ياد دې شي چې ډائريکټر دا سچوېشن درکړو او تهٔ د رېډيو په کوټه لکه د لېوني هغې او دې سر له تلې چې داسې يوه سندره وليکې چې د پښتنو زلمو د همت او مړانې آئينه داره وي خو زهٔ دلته يوه اضافه پکښې کول غواړم چې دا د قياسي صېب تخليق ؤ خو د ځينو لفظونو کمے زياتے پکښې قاسم حسرت صېب هم کړے ؤ.

پښتـون : د دې موسيقار څوک ؤ؟

خيـال محمد : الله دې ئې وبخښي رفيق شينواري د دې موسيقي ترتيب کړې وه.

د رېډيو سره وابستګي:

دا هغه وخت ؤ چې اکثر پروګرامونه به نېغ په نېغه کېدل، په جمرود کښې زما پروګرام ؤ او چې ۳ بجې پروګرام ختم شو نو په ما دا پنډکس درد راغے، هغه وخت ګاډي هم نهٔ وو او سحر زما رېډيو کښې پروګرام هم ؤ نو زهٔ مې ماما د هغه ځائے نه د لرګو په يوه ګاډۍ کښې راواچولم او رېډيو ته راغلو. سټېشن ډائرېکټر چې زما حالت وليدلو نو وئيل ئې چې دا ماشوم خو مو مړ کړو، پروګرام پرېږدئ دے ورسوئ، دا زمونږ هغه مينه، ذمه واري او وابستګي وه.

**پښتون:** يو وخت ؤ چې پښتو فلمونو کښې يو معيار ؤ، د کلچر او معاشرې د رواياتو پابندي وه پکښې، د موسيقۍ هم يو معيار ؤ. اوس حالات بالکل بدل دي. دا خراب بدلون کله راغے او وجوهات ئې څۀ دي؟

**خيال محمد:** يو دور ؤ چې د درۀ خيبر، يوسف خان شېربانو، اوربل، ديدن، کوچوان، خانه بدوش، اجرتي قاتل، جرم سزا غوندې معياري فلمونه جوړېدل چې سدابهار فلمونه دي او اوس هم د خلقو سره په کورونو کښې پراتۀ دي. هغه پروډيوسرانو به پېسې هم ګټلې خو د ثقافت او کلچر خيال به ئې هم ساتلو، بيا يوه هله جوړه شوه هر سړے راغے او پروډيوسر شو چې اکثر شمېر پکښې د پنجابيانو ؤ. بس په څۀ طريقه پېسې ګټل وو. هغوي روايات او کلچر څۀ کولو، داسې وشوه چې د پوليسو چاپې هم ولګېدې، جينکۍ هم ونيوې شوې خو دغه لوبه جاري ده، بيا خو خبره تر دې راغله چې اداکارانو له

يوه دلچسپه واقعه:

هغه وخت کښې به د ټي وي پروګرامونه د چکلالې نه کېدل. مونږ تلي وو د پروګرام پروډيوسر منور توفيق بابي وه. هغه ورځ مېک اپ مېنانو هړتال کړے ؤ، نو داسې ده چې د کېمرې خو خپلې غوښتنې وي چې مېک اپ نۀ وي نو کېمره خو د انسان حيا اخلي. په دغه ورځ مونږ فضل ربي، راحدت حسېن او رفيق لالا خو څۀ نۀ څۀ ګوزاره کوله خو منير سرحدي مرحوم د رنګه تور ؤ هغه چې په سکرين راغے نو نور هم تور ښکارېدو. نو منور توفيق بابي راغله، وئيل ئې "معاف کرنا منېر صاحب آپ کا چهره کچھ زياده مختلف نظر آرها هے" ما هسې په ګپ کښې ووئيل چې بابي کۀ دې خوښه وي نو لال محمد طبلې والا سره اوړۀ شته لږ اوړۀ به ورته په مخ ولګوو، هغې رښتيا د داسې کولو ووئيل نو منېر سرحدي له مو داسې د وچو اوړو پېنګ وکړو او چې بيا په سکرين ښکاره شو نو زمونږ ټولو نه ښۀ ښکارېدو.

به پښتو هم نۀ ورتله ډبنګ به ئې پرې کولو خبره انتها ته ورسېده.

**پښتون:** ستاسو رول څۀ ؤ؟

**خيال محمد:** مونږ خو بيا هم کوشش کاوۀ چې موسيقي معياري تخليق شي خو د هغې پکچرائزنګ څنګه کېږي دا خو زمونږ د وس خبره نۀ وه. دا خو د حکومتي واکدارانو کار دے چې دا څيز کنټرول کړي. د موسيقارانو او سندرغاړو خو د معاش بله ذريعه نشته. د لوږې به مري؟ اوس حالات لږ ښۀ طرفته روان دي. ارشد خان او نور خلق رامېدان ته شوي دي او څۀ نه څۀ بهتري راغلې ده. ماسټر علي حېدر ښۀ معياري فلمي موسيقي ترتيبوي، کلام هم د ښو او لويو شاعرانو وي. تېره موده کښې د ارشد خان يو فلم له رحمت شاه سائل سندرې ليکلې دي دا يو ښۀ بدلون دے.

**پښتون:** اوس به لږ ټي وي ته راشو، چې تاسو ورسره د وړومبي سر نه وابسته يئ.

**خيال محمد:** زۀ خو ټيلي وژن سره د هغه وخت نه وابسته يم چې کله لا دلته سنټر نۀ ؤ جوړ. مونږ به چکلالې ته ريکارډنګ له تلو. يا چې به اهم پروګرام ؤ نو حېدراباد او کراچۍ ته به تلو. بيا په ۱۹۷۵ء کښې پېښور کښې هم سنټر جوړ شو په وړومبي پروګرام کښې مونږه شامل وو او دا سلسله تر اوسه روانه ده.

**پښتـون :** ريډيو، ټي وي تاسو دپاره څۀ کړي دي يا د سرکار د اړخه ستاسو سره څۀ خبر ښېګړه شوې ده؟

**خيـال محمـد :** ريډيو او ټي وي خو زمونږ د پېژندګلو ذريعه وه، مونږ ورته هم ډېر څۀ ورکړي دي. زمونږ پکښې ډېر قدر او عزت شوے دے او کېږي. ټي وي کښې ما ته ١٩٨٠ کښې د اې کلاس نه بره آوټ سټينډنګ کلاس ملاؤ شو. هم دغه کال ماته صدارتي ايوارډ هم راکړے شو.

تر څو پورې چې د سرکار خبره ده نو يو وخت ما د کور جوړولو دپاره د ډېرې مجبورۍ نه د بېنک نه يو نيم لک روپۍ قرضه راخستې وه. دوه لکه پنځۀ شپېتۀ زره روپۍ ئې رانه په سُود کښې واخستې خو يو نيم لک روپۍ هغسې پورې وې. د پيپلز پارټۍ حکومت ؤ، تانه کلي کښې د سائل صېب سره يو مابښام ؤ، زۀ هم پکښې وم، پروګرام کښې د هغه وخت وزيران بخت بېدار خان او احمد حسن خان هم موجود وو. بخت بېدارخان سره خو زما ډېر تعلق دے نو دواړو رانه تپوس وکړو چې کۀ څۀ مسئله وي او بيا بخت بېدارخان خو ډېر کلک شو نو ورته مې د قرضې خبره وکړه. بيا هغوي بې نظير بوټو ته دغه خبره کړې وه. د هغه ځائے نه زما درخواست دې خوا ريفر شوے هم ؤ. يو تقريب کښې افتاب شېرپاؤ راسره ملاؤ شو هغه وخت د پښتونخوا وزيراعلي ؤ. غوږ کښې ئې راته ووې کار به دې وشي خو چې سحر شو نو حکومت مات شوے ؤ او بل حکومت زما په دغه مسئله هيڅ غور ونۀ کړو چې وروستو ئې زۀ ډېر په عذاب کړم. بل د حکومت د طرفه فنکارانو ته يوه وظيفه ورکړې کېږي نو يو وخت چا زما خبره وکړه نو د هغې محکمې يو کارنده ووئيل چې د خيال محمد پېسو ته څۀ ضرورت دے، نو زمونږ خو هغه د پښتو متل دے چې کته باندې نو کټوۍ باندې او حالات خو تاسو په خپله ګورئ چې کوم طرف ته روان دي او په دې وطن کښې څۀ صورت حال روان دے او د فن او فنکار مستقبل په دې وطن کښې ښېخي تاريک دے.

**پښتـون :** اوس خو د اې اين پي حکومت دے چې فنکاران ئې خپل حکومت ګڼي تاسو د دوي نه څۀ هيلې لرئ؟

**د پښتو فلمونو معيار :**

زۀ يوه واقعه بيانوم. زمونږ سره فلم انډسټرۍ کښې د افغانستان يو زلمي د رائټر او ايډيټر په توګه کار کولو نوم ئې زما له فکره ووتو. يو ځل يو پروډيوسر (نوم ئې ناخلم) ناست ؤ، دغه زلمي ايډيټنګ کولو، موسيقي خو ښه وه خو دۀ چې وکتل نو په سکرين نور څۀ روان وو، دۀ اپريټر ته ووئيل چې بند کړه او پروډيوسر ته ئې ووئيل چې دا خو ښېخي غلطه خبره ده او د پښتنو سره زياتے دے. پروډيوسر ووئيل پښتو منښتو پرېږده دا به هم داسې وي، هغه زلمي چې ډېره موده دلته کار کړے ؤ، وئيل ئې ښه چې داسې کېږي نو بيا زۀ دلته څۀ کوم او افغانستان ته لاړو او هلته ئې ځان له ميوزک سنټر پرانستو، بيا واپس رانغے.

**خيـال محمـد :** خبره يواځې زما نۀ ده، د ټولو فنکارانو ده. زۀ صرف دومره وايم چې زمونږ ځنې فنکاران ورونه کل وقتي د موسيقۍ سره وابسته نۀ دي، خپل خپل کاروبارونه او نوکرۍ هم لري خو نور



خیال محمد د پښتو د صاحب طرز موسیقار صاحب ګل سره

فنکاران خو د فن نه علاوه بل څۀ د معاش ذریعه نۀ لري، د دوي مسئلې هوارول د دې حکومت وړومبۍ ترجیح پکار ده.

پښتون : اوس اوس چې پښتو موسیقۍ ته نوي نوي مغربي سازونه راغلل په خصوصي توګه مغربي ردمونه ، دې بدلون ته تاسو په کوم نظر ګورئ؟

خیال محمد : د مغربي سازونو استعمال جرم نۀ دے خو استعمال ئې استاذي غواړي، پوهه غواړي تاسو وګورئ د نصرت فتح علي خان په رنګ استاذ مغربي سازونه کارولي دي خو خپل اصل آهنګ ئې له لاسه نۀ دے ورکړے.

پښتون : د اې آر رحمان مثال هم شته چې کلاسیکل، فوک او مغربي موسیقي ئې په ډېر هنر یو ځائے کړه.

خیال محمد : بالکل بالکل نو دې استاذانو هغې نه یو نوے څیز جوړ کړو. یو نوے تخلیق چې د ټولو اسلوبونو خوارۀ پکښې موجود دي. خو دلته ورسره زما په خیال لږه بې احتیاطي کیږي. دا ښۀ رجحان نۀ دے کۀ څوک دا سې کوي نو د نصرت فتح علي خان او اې آر رحمان اسلوب دې په نظر کښې ولري نور د موسیقۍ ژبه یوه ژبه ده.

پښتون : اوس چې د خېبر ټي وي د راتلو نه پس پښتنو ځوانانو موسیقۍ ته مخه کړې ده، ظاهره خبره ده چې اکثر د موسیقۍ نه بېخي ناخبره دي، د نوې ټیکنالوجۍ او مېډیا په زور ئې لوئے لوئے نومونه وګټل، دې رجحان ته په کوم نظر ګورئ؟

خیال محمد : یو وخت ؤ چې مونږ به ریکارډنګ کولو نو د یو کس نه کۀ به هم غلطي وشوه ټوله خواري به په اوبو لاهو شوه. بیا به د سره شو، ډېر ګران کار ؤ، اوس نوې ټیکنالوجي راغلې ده، ډېره اساني ده خو تاسو چې کوم رجحان یاد کړو، دا د دې ټیکنالوجۍ نه غلطه فائده اخلي، یقیناً دا د دې غلط استعمال دے موسیقي زده کول یو لوئے عمر غواړي. خواري او محنت غواړي. دا رجحان دا فن تاوان طرف ته بیائي، دې مېدان کښې لکه د فضا فیاض او همایون غوندې کسان هم شته چې باقاعده د موسیقۍ زدکړه ئې کړې ده.

پښتون : کندهار او کابل د پښتو موسیقۍ لوئے مرکزونه وو، دې خوا پېښور ؤ تاسو د دې دواړو خواوو موازنه څنګه کوئ؟

خیال محمد : یو وخت ؤ چې خلقو به کابل ربډیو ډېر په شوق اورېدلو. د پېښور ربډیو هغه وخت دومره مخکښې نۀ ؤ، کابل کښې ډېر ښۀ ښۀ استاذان هنرمندان وو، کۀ مونږ صرف د استاذ سرآهنګ، اول میر استاذ او ناشناس نومونه هم واخلو نو د مثال دپاره پوره دي.

هلته موسیقۍ ته سرکاري سرپرستي حاصله وه، استاذ سرآهنګ د اعلیحضرت ظاهر شاه درباري سندرغاړے ؤ، هغۀ په عالمي کچ په کلاسیکي موسیقۍ کښې شهرت لرۀ. خو بیا چې هلته بدامني شوه او جنګ راغے نو هنر ته تاوان ورسېدو. د نورو خلقو سره هنرمندان هم در په در شو. دغه وخت دلته کار مخ په وړاندې لاړو.

پښتون: انور خیال او وصال خیال ستاسو هنرمندان بچیان دي. دوي هم خپل یو مقام لري. په موسیقۍ کښې د دوي روزنه چا کړې ده؟

خیال محمد: دوي د وړوکوالي نه په ما پسې ناست پاتې شوي دي، دا یوه عملي زدکړه ده. دوي خپله خواري هم کړې ده او د دوي په زدکړه کښې د صاحب ګل هم ډېره برخه ده.

پښتون: رفیق شینواري سره ستاسو د عمر یوه برخه تېره شوې ده. مونږ تر اوسه د هغه د پائې موسیقار ولې پېدا نۀ کړو؟

خیال محمد: رفیق لالا پېدائشي موسیقار ؤ. د پیر مرشد په دعا رنګ ؤ، بس داسې ده چې هغه صرف موسیقۍ له پېدا ؤ او له ځانه سره ئې په روح کښې موسیقي راوړې وه. هغه یو فطري انداز لرۀ. د هغۀ موسیقي د زړۀ نه راوتې وه نو خامخا به ئې په زړونو کښې کور کاوۀ.

پښتون: مونږ اورېدلي چې رفیق شینواري د موسیقۍ کوم ساز نۀ شو غږولے؟

خیال محمد: بالکل دا خبره سهي ده ما خو تاسو ته ووئیل چې هغه پېدائشي موسیقار ؤ. د هغۀ طریقه دا وه چې ماسخوتن به ئې چیلم وڅښلو نو هارمونیم ته به کښېناستو. په دې هارمونیم کښې



امجد شهزاد او اعجاز خان د خیال محمد سره د خبرو اترو په وخت

یوه پرده ده مونږ ورته دربمه سپینه وایو نو په هغه پرده به ئې ګوته کېښوده او خواوشا پردې به ئې ورسره ورو ورو چیړلې او څۀ به ئې د ځان سره زمزمه کول نو شاهکار تخلیق به ئې وکړو. بیا به ئې په وړوکي ټیپ ریکارډر دغه میوزک په خپل اواز کښې ریکارډ کړو. دا خدائي ورکړه وه جي.

پښتون: بهر دنیا کښې مو کومو کومو هېوادونو کښې د خپل فن مظاهره کړې ده؟

خیال محمد: افغانستان خو زمونږ خپل دوېم کور دے، هلته کرزي صاحب ارګ ته غوښتي وو، زما دپاره ئې د مېډل اعلان هم کړے خو تر اوسه لا مېډل خدائے خبر چې ولې ماته ملاؤ نۀ دے. د دې نه علاوه چې د مډل ایسټ څومره هېوادونه دي، بحرېن، دبۍ، ابوظهبي، راس الخیمه، قطر، سعودي عرب، هالېنډ، بلجیم، جرمني، امریکه،

ناروې، سویډن، ډنمارک، انګلېنډ، ماسکو ته تلي یو.

**پښتـون:** هندوستان ته نۀ يئ تلي؟

**خیـال محمد:** نۀ تر اوسه داسې څۀ حالات نۀ دي برابر شوي چې هندوستان ته لاړ شو.

**پښتـون:** کۀ هندوستان ته د فنکارانو او هنرمندانو تلے راغلے شروع شي نو د دواړو هېوادونو په تعلقاتو به يو مثبت اثر اچوي. تاسو څۀ وايئ؟

**خیـال محمد:** بالکل دې سره به د دواړو هېوادونو خلق نور هم يو بل ته رانزدې شي. مينه او وروروَلي به نوره هم سېوا شي. زمونږ حکومتونو له پکار دي چې د فنکارانو او هنرمندانو د تګ راتګ لارې چارې برابرې کړي او په هندوستان کښې خو ډېر پښتانۀ دي ټول غواړي چې خپل هنرمندان او فنکاران ووينې.

**پښتـون:** بس يوه اخيري پوښتنه کوم چې ستاسو په زړۀ کوم ارمان دے او د پښتون د لوستونکو او خپلو اورېدونکو لپاره يو پېغام.

**خیـال محمد:** ارمانونه خو ډېر پوره شوي هم دي او ډېر پاتې هم دي خو لوئے ارمان مې دا دے چې په دې وطن کښې د هنر او هنرمند قدر وشي. ډاډګېرنه ئې وشي او پيغام مې دا دے چې خپل تاريخ ولولئ، خپل مشران وپېژنئ، پښتو ژبې ته ترقي ورکړئ او خپل ثقافت او خپل قام د تباهۍ نه بچ کړئ.

**ولي خان او خیـال محمد:**

هغه وخت کښې ما د خېبر زلمي سندره نوې نوې وئیلې وه. يوه ورځ ولي خان او اجمل خټک رېډيو سټېشن کښې راروان وو، علېک سلېک وشو. اجمل خټک ولي خان ته وائي چې خيال محمد ته خو دعا وکړه کنه ولي خان وئيل خيال محمد خو په خپله دعا ده او دا چې "مونږ يو د خېبر زلمي" ترانه ئې وئيلې ده نو د دې نه بله ښه دعا شته؟ د ټولو پښتنو دعا ئې پرې اخستې ده.